# خدائے بخښلے عبدالعزیز خان د زېدې

کرامت شاه فولاد

تنګیالي د وطن نهٔ مري کهٔ دا ومري
مړ هغه شي چې ئې مرګ نه وي د پت
مرګ له ننګ کښې ورکوي ترجیح له ژونده
څوک چې پېژني د پلار نیکهٔ عظمت

د دنیا د نظام مطابق زماني راځي او تېرېږي او د زماني د هر وخت د تېرېدو سره دژوندو بنیادمو سفر یو شاني وي.

خان "عبدالعزیز خان" د زېدې کلي د صوابۍ تحصیل مړ شو. هغه عبدالعزیز خان چې څهٔ وخت انګریزانو دې قوم له د خدائي خدمتګارې د قربانو له برکته د اصلاحاتو مراعات ورکړهٔ، چې اوس به پس له دې نه قامي الېکشن کېږي او قام به خپله اسمبلي جوړوي او بیا به د وزارت په ذریعه ملک او قام له څهٔ کارونه کوي. د دغه اصلاحاتو په سلسله کښې عبدالعزیز خان کاکا په ۱۹۳۶ء کښې په خپله حلقه د صوابۍ په تحصیل کښې خدائي خدمتګارو د صاحب زاده عبدالقیوم د ټوپۍ د نواب په مقابله کښې ودرولو او داسې سخت شکست ئې ورله ورکړو چې تر مرګه پوري ترې هېر شوے نهٔ ؤ. عبدالعزیز خان په دوېم الېکشن کښې بیا په کال ۱۹٤۰ء کښې خپل جماعت ودرولو او بیا ئې د مسلم لیګ نمائنده ته په خپله حلقه کښې په الېکشن کښې داسې سخت ضرب ولګولو چې تر مرګه پورې ترې په فریاد ؤ. په کال ۱۹٤۰ء کښې ئې هم مسلم لیګ ته په الېکشن کښې په درېم ځل شکست ورکړے ؤ.



دا الېکشنونه د پاکستان د جوړېدو نه مخکښې شوي وو. منم چې بني آدم د مرګ د پاره پېدا شوے دے او خامخا به د اجل نوړۍ کېږي، ولې هغه خلق به په مرګ هم په زمانو نهٔ مړهٔ کېږي چې د کومو خلقو مرګ د قام او د ملک د خدمت په لاره کښې وي.

عبدالعزیز خان کاکا چې یو ځل د باچا خان سره د خدائي خدمتګارو د تحریک په ابتدائي زمانه کال ۱۹۳۰ء کښې کوم لوظ او سوګند د ملګرتیا او د قامي او ملي خدمت کړے ؤ، یعنې تر مرګه پورې په خپل سوګند او اقرار کلک پاتې شو. ډېر خلق او د اسمبلۍ ممبران په ذاتي لالچونو بدل را بدل شول ولې عبدالعزیز خان د قیوم دور په

ظلمونو هم بدل نۀ شو. هسې خو کۀ څومره د عبدالعزيز خان کاکا په عملي ژوندون تبصرې وشي کمې به وي. ژوند ئې د چا نه پټ نۀ دے. د ايوب په مارشل لا دور کښې چې خدائي خدمتگار تحريک د يو يونټ د ماتولو په سلسله کښې کومه سول نافرماني شروع کړې وه.دغه وخت عبدالعزيز خان کاکا ډېر سخت بيمار ؤ او د گرفتارۍ حکم ئې وشو. پوليس په کټ کښې جېل خانې ته راوړے ؤ. مېندې دې کښېنې او داسې نران بچې دې راوړي. لکه عبدالعزيز خان د زېدې چې ئې راوړے ؤ. عبدالعزيز خان يوازې د زېدې صوابۍ نۀ ؤ. د ټولې پښتونخوا د غېرتې پښتنې خاورې نازولے ننگيالے پښتون ؤ.

عبدالعزيز خان د ډېر فخر او د ناز د ستائينې جوگه دے. آه! لکه چرې مرگ تلوار نۀ وے کړے او لږ د خپل مقصد د پوره کولو تر وخته ژوندے پاتې شوے وے نو ارمان به ئې نيمگړے نۀ ؤ پاتې شوے. دنوي کول زلمو ته د عبدالعزيز خان کاکا پوره پوره دژوند حالات معلوم نۀ دي چې دے څوک ؤ، د پښتنو ليکوالو ته پکار دي چې دوي د عبدالعزيز خان کاکا په ژوند د خپلو معلوماتو مطابق هغه څۀ وليکي څکه چې کوم خلق په دې عملي ژوندون کښې د اجل نوږۍ شي. د ليکوالو د ليکونو له کبله په تاريخ کښې په زمانو هم بيا هېرېږي نۀ.

عبدالعزيز به دچا نه هېر نۀ شي، د پښتنو په تاريخ کښې پښتانۀ ئې همېشه دپاره يادساتي. ليکوالو له پکار دي چې قلمونه تېرۀ کړي او د نوي کول بچو ته د عبدالعزيز خان کاک د ژوند، هغه عملي کارنامې په افسانو، په قصيدو، په نثر او نظمونو کښې وښائي. د پښتنو د انقلاباتو د سېلاب، غورزنگ عبدالعزيز خان ؤ. د پښتنو د هر وخت د امتحان د مېدان توريالے عبدالعزيزخان ؤ. د پښتنو د جنگ د هر مېدان بريالے عبدالعزيز خان ؤ. د پښتنو د پښتو د عظمت شان ؤ. عبدالعزيز خان مړ شو، ولې خپل عملي ژوند به ئې په زمانو ژوندے ساتي. خدائے دې وکړي چې په مونږ کښې هم دغه رنگ عملي استقلال او همت پېدا شي چې د ملک او قام خدمت وکړو. د عبدالعزيز خان کاکا د ژوند دا اخري حصه ټوله د بيمارۍ په حالت کښې تېره شوه او اکثر به په لېډي رېډنگ هسپتال پېښور کښې داخل ؤ، ولې د بيمارې په حالت کښې ئې هم ملک او قام هېر کړے نۀ ؤ. باچا خان او خدائي خدمتگار تحريک سره ئې دومره مينه او محبت ؤ چې د بيمارۍ په حالت کښې به ئې هم د ارام په ځائے ملا ترلې وه چې دجمات کار به ئې کولو. اوس اوس چې هسپتال کښې داخل ؤ او باچا خان د علاج دپاره هندوستان ته تلے ؤ، د هسپتال نه به کننگم پارک کېمپ ته دټپوس دپاره باقاعده راتلو.

دخانۍ خيال پکښې نۀ ؤ، هر يو حرکت چې به کوو ډېر مخلص رنگ به ؤ پکښې. ټول جائداد ئې د قام د ښېگړې په لاره کښې ختم کړے دے. په گرفتارو او قېد او بند کښې ئې څو ځله ټول جائداد سرکاري شوے ؤ.

د قربانو هډو څۀ حد ئې نشته. د قام او د ملک خدمت دغسې کول پکار وي. لکه عبدالعزيز خان چې کړے دے. ژوندے به وي او ژوندے به وي.

(اووۀ ورځنۍ "قيادت" مردان ۲۵-نومبر ۱۹۸۷)